د افغانستان اسلامی جمهوري دولت
دعدلې وزارت
دملي ثبات ټولنه

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت عدلیه
انجمن ثبات ملی

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Ministry of Justice**
**National Stability Society**

Date: 1394-11-15

# سوله او ثبات د افغانانو اساسي اړتيا

## اعلاميه

سوله او ثبات د افغانانو د اساسي اړتيا ده او د هېواد پايښت او پرمختيا تضمينوي. خو له بده مرغه چې له کابو څلويښتو کلونو راهيسې افغان ملت د بېلابېلو ډلو، ګوندونو او اشخاصو له لوري په مختلفو نومونو، بنو او ايډيالوژيو د جګړې په اور کې سوځي چې د سولې او ثبات په ګډون يې د دوی زياتره مادي او معنوي ارزښتونه زيانمن کړي او حتی له منځه وړي دي.

د بُـن تر غونډې وروسته، په لنډمهاله او انتقالي دورو کې، ځينو حاکمو افرادو او ډلو سوله نه غوښته او د سولې او امن له تأمين سره يې خپلې ناروا ګټې او شتمنۍ په خطر کې لېدلي، نو په ټول قوت سره يې د حالاتو په ترينګلي کولو، د افغانانو په ځورولو، د نفاق او کرکې په خپرولو، د خپلو سياسي مخالفانو په له منځه وړلو او د نظام د تأسيس او بيارغونې پر وړاندې د خنډونو له ايجادولو سره ئې له سولې او ثبات سره په دښمنۍ لاس پورې کړ. په دې توګه يې د افغانانو يوه لويه برخه د نظام مخالفت ته اړ ايسته چې د ناامنۍ له پراخېدو سره د سولې او ثبات لمن له هېواده ټوله شوه.

ملي ثبات ټولنه له هر اړخيزو څېړنو وروسته دې پايلې ته رسېدلې چې د سولې او ثبات د بهير په وړاندې نور ګڼ کورني او بهرني خنډونه او ستونزې هم شته. په کورنيو خنډونو او ستونزو کې د سولې لپاره د دقيق ميکانيزم او تګلارې نشتوالی، سولې ته د معما په سترګه کتل، له وسله والو مخالفانو سره د پخلاينې په برخه کې د دولت دننه د جهاد د وارث او د ډيموکراسۍ د داعي په نومونو د افرادو او ډلو مخالفتونه، د سولې لپاره د حکومت ضعيفه اراده او اداره، د طالبانو او نورو مخالفانو کلک دريځونه، د پرديو ګټو پالنه او ساتنه او ځينې نور موارد يادولی شو. دغه راز، د بهرنيانو له خوا افغانستان د دوی د نيابتي جګړو په ډګر بدلېدل، د ګاونډيو او ځينې نورو هېوادونو لاسوهنې، د سولې په تأمين کې د دوی نه جديت او نه صداقت، د بهرنيو استخباراتي او مافيايي کړيو توطيې او معامله ګرۍ او ځينې نور بين المللی مسائل او موارد د سولې د نه تأمين بهرني خنډونه دي.

په اوسنيو حالاتو کې، ملي ثبات ټولنه د ځان او خپلو همفکرو ملګريو مسؤوليت او رسالت ګڼي چې د يوې سترې ملي غونډې له لارې د سولې غږ اوچتوي او د دې له پاره حتی په دولت کې د ژورو بدلونونو غوښتنه کوي. ټولنه د دغو ارزښتونو د تحقق له پاره لاندې مشخصې سپارښتنې لري:

(۱) ټولنيز عدالت دې تأمين شي؛ (۲) سياسي واک دې د ځانګړيو کړيو له انحصاره بهر کړی شي؛ (۳) د سولې په بهير دې ولس ډاډه کړی شي؛ (۴) حکومت او مخالفان دواړه دې په خپلو خپلو دريځونو کې نرمښت راولي؛ (۵) مخالفان دې د وسلوالې مبارزې پر ځای د سياسي مبارزې ډګر ته راودانګي؛(۶) حکومت دې د سولې پروسه د انتفاعي پروژې له حالته د افغانانو د حياتي پروسې حالت ته راوباسي او د سولې ميکانيزم کې دې تغيير راولي؛ (۷) د سولې له بهير څخه دې د شخصي او ګوندي ګټو د وسيلې په توګه کار وانه خيستل شي؛ (۸) د سولې په نوم او پلمه دې پر ملي مسائلو او تاريخي ارزښتونو معامله ونه شي؛ (۹) افغانان دې د خپل طبيعي حق غږ اوچتولو (سولې غوښتلو) ته پرېښودل شي؛ (۱۰) حکومت دې د افغان ملت اساسي غوښتنې (د سولې او امن

تأمین) ته غاړه کېږدي؛ (۱۱) ګاونډیو هېوادونه، بین المللي ټولنه، په تېره بیا اسلامي او عربي نړۍ باید د افغانانو د غمېزې په پای ته رسولو کې خپل مسؤولیت ترسره کړي.

د سولې او ثبات پر تأمین سربېره، دولت او سیاستوال باید د واک د وېش پر سر خپلمنځي شخړې او ناندرۍ یوې خوا ته کړي او پر ځای یې دې د فقر او بېکارۍ له منځه وړلو، د قانون حاکمیت، له نشه‌یي توکیو سره مبارزې، د روږدیو کسانو درملنې، په خپل وخت د سراسري، عادلانه، بې پرې او رڼو ټاکنو ترسره کېدو، له پراخ اداري او مالي فساد سره مبارزې او د ملت نورو حیاتي ستونزو ته جدي پام وکړي.

په پای کې یو ځل بیا ټینګار کوو چې سوله او ثبات د افغانانو بنسټي اړتیا او غوښتنه ده او د ملي ګټو په محدوده کې، چې په هر قیمت وي، باید تحقق پیدا کړي.

### په درنښت

### د ملي ثبات ټولنې مشرتابه